یادګیرنه

انور حسین زرین

ياد ګيرنه

Dedicated to the people of Twin Cities
Minneapolis-Saint Paul, Minnesota, USA
for their
Love and understanding

انور حسين زرين
(پلئي، ملاکنډ)
۲۱.٤.۹۸

ټول حقوق په حق د مصنف محفوظ دي

شاعر	انور حسين زرين
د کتاب نوم	يادگيرنه
سمون او ډون	محمد جمال خان ختک
ليک دود	فرمان علي او راحيله بيگم
ليک	محمد سعيد
شميره	۵۰۰
د چاپ ځائي	تاپ پرنټرز ، پيښور
د چاپ کال	مئ ۱۹۹۸

یاد گیرنه

په دې مجموعه کښې شاملې غزلې او نظمونه ما زيات تر د خپل سفر دوران(1988-1996) امريکه کښې ليکلي د هر نظم او غزل سره م د ليک تاريخ، ځائې او کال ورکړې دې دا هر څه ما څه د خپل ياداشت د پاره او څه د هغې اشنا د زره د پاره کړی د چا ذکر چه ما په خپل اولنې کتاب "نمر پرست" کښې کړې
د کتاب نوم داکټر محمد جمال خان خټک ايښې. سمون اودون ئې هم هغه کړې ولې چه د چا خبره ما لا خبره نه وی کړې چه هغه په پوهه شی ما وې راشه دا کار هم دۀ ته پريږدم. داسې ښکاری جمال خان کتاب په درې برخو کښې تقسيم کړی يعنی زما خبرې. اشنا ته خبرې او دنيا ته خبرې.
په دې هر څه کښې ډيرو ملگرو او دوستانو ځما حوصله افزائ کړې ده او زه ئې ډير مشکور يم ـ دلته زه د هغو ټولو نومونه خو نه شم اخستې خو يو نوم به ضرور اخلم او هغه دې سلمه شاهين. د شاعری په مد کښې هغه ځما استاذه ده ځما د اولنی کتاب نمر پرست اصلاح ئې د سره تر اخر پورې کړې وه خو هغه وخت ئې ما شکريه نه وه ادا کړې که هغې ځما حوصله افزائ نه وې کړې نو نه به دا کتاب وو او نه نمر پرست.
د کتابت کار محمد سعيد ډير په اخلاص او مينه کړې زه د هغه د دې هر څه د زره د اخلاصه شکريه ادا کوم

انور حسين زرين

پلئي، ملاکند

سریزه

ډاکټر فرمان علی[1]

ډاکټر انور حسین زرین ځما یو ډیر پخوانې دوست دې او ځمونږ د دې دوستانې ډیر وخت یو ځائې په یوه اداره کښې تیر شوې دې هم له دې کبله مو یو بل سره دومره نزدیکت دې چه بې خبرو هم د یو بل په احساساتو پوهیږو ولې اته کاله پکښې دا سې هم تیر شوی دی چه زرین امریکې ته تلې وو او په دغه دوران کښې ځمونږ ډیره کمه رابطه وه دا زیر نظر کتاب "یادگیرنه" د دغه وخت پیداوار دې د دې کتاب د لوستو سره ماته دا سې محسوسیزی لکه چه دا کتاب نه بلکه زرین په خپله وې ولې چه د زرین په عملی ژوند او د دې کتاب په وینا کښې هیڅ فرق (بیلګلوټ) نشته خو د دې رونړ حقیقت باوجود ځما کوشش به دا وې چه زه خپل دوست شاته کرم او صرف د هغه د دې کتاب په حواله سره بحث اوکرم.

د دې کتاب د کتو سره چه ځما ذهن کښې کومې خبرې راځی نو هغه دا دی چه د دې کتاب موضوع څه ده؟ د دغه موضوع بیانولو د پاره هغه کومه طریقه اختیار کرې ده؟ او زرین په کومه کومه حواله سره د نورو شاعرانو نه بیل تلې دې؟

د موضوع په باره کښې خو به د اوایم چه اګرچه د کتاب نوم "یادګیرنه" ده د کتاب موضوع روایتی مینه نه بلکه

---

1 Research Specialist, IDS Agricultural University, Peshawar

انساني معاشره ده. انساني معاشره د مختلفو تضاداتو مجموعه ده. خان او غریب، ملا او ډم، عاشق او معشوقه، غم او خوشحالی، مصیبت او راحت د دې تضاداتو یو ځو ښکاره مثالونه دی زرین د بعضې تضاداتو هدو قائل نه دې لکه خان او غریب یا ملا او ډم هغه ته دا بالکل د رسمونو رواجونو او غلطو عقیدو په نوم جوړې شوې کندې کپرې ښکاری چه ساتل ئې بې ځایه او ختمول ئې ضروری دی په دا سې حالاتو کښې هغه په انسانی معاشره کښې د برابری قایمولو درس ورکوی په دې لړ کښې وئیلی شوی ډیر نظمونه د زرین د ژورې مشاهدې عکاسی کوی او دا مشاهده یو وختیزه نه بلکه روانه سلسله ده چه په هر وخت او ځائې کښې شروع وی او پکښې د خپل چا پیرچل هر وګرې شامل وی تر دې چه خپل ځان هم د تنقید نه اوچت نه ګنری او کله چه مناسب اوګنری نو ډیر بې کرکې بحث پرې کوی چه تنقیدی هم وی او تعمیری هم.

بعضې تضادات لکه غم او ښادی مصیبت او راحت او یا د عشق دواره ارخونه یعنی عاشق او معشوقه زرین د انسانی معاشرې یو دا سې حقیقت منی چه د انسانی ارتقا د پاره ضروری دی په دې حواله سره هم د هغه ګنر شمیره نظمونه په دې ګواه دی چه زرین غیر موافق حالاتو سره په ډیر همت او مرانه خپل ځان او چاپیرچل سمول غواری د حالاتو تیرې چه څومره هم زیاتیزی د امیدونو رنړا ګانې هغه ته ښکاری د دغه امیدونو په اسره او د همت او مرانې په وسیله زرین د معاشرې هر وګری مخ په وراندې د ارتقاء په لور روان لیدل غواری.

د یو حساس انسان په توګه زرین د ډیرو پاکو جذبو مالک دې د حسن او رنګونو ستائنه او د ظلم او ځیاتی غندنه خو هر چا کړې ده ولې په هجر کښې د صبر او شکر او په مصیبت کښې دَ همت او استقلال مظاهره ډیرو کمو خلقو کړې ده چه پکښې زرین هم شامل دې په تیارو کښې رنړا لټول په ژړا کښې خندا کول ژوند خپل استاذ ګرځول او د دغې استاذ نه د ژوند رازونه زده کول د ده خاصه ده.

د ژوند د رازونو ښودلو د پاره زرین د شاعرې لار اختیار کړې ده ولې د ده شاعری محض د الفاظو ترون نه دې بلکه د جذباتو او احساساتو ترجمانی ده چه د زره د بیخه راپورته شوې ده او دغه وجه ده چه دې کتاب کښې نظمونه ډیر او غزلې کمې ښکاری ولې چه غزل د پښتو شاعرې خپله برخه نه ده د غزل په مقابله کښې د نظم بحرونه د پښتون د تیز او ساده مزاج تر ډیره حد ترجمانی کولې شي د ده هر نظم د یو خاص واقعې ذکر دې چه د جدا جدا سرخط لاندې وئیلې شوې دې .

د زرین په نظم او غزل دوارو کښې چه ځما په خیال کوم ښکلې والې دې نو هغه دا دې چه دهٔ بالکل کلی واله او سوچه پښتو وئیلې ده او بل دا چه زیات زور ئې د مطلب په بیانولو دې نه چه د الفاظو په یو خاص بحر او وزن کښې ترون او کله چه د دوارو مقابله راغلې ده نو ډیر په ښکلې انداز ئې د بحر او وزن قربانی ورکړې ده ولې د خپلو جذباتو او احساساتو سودا ئې هیڅ کله نه ده کړې او ځما په خیال دا د هغه په پښتو ادب یو لوی احسان دې.

د زرين شاعري

سليم گل[2]

زرين يو باشعوره او اعلى تعليم يافته انسان دې ورسره ورسره ډير شريف النفس مهذب بنده دې او د يو عاشق په حيث هم د زرين پهٔ کردار او گفتار کښې دغه خصوصيات ډير په جوت حيثيت کښې ښکاره دي.
خلق وائي چې څه يې پهٔ زړهٔ وي هغه يې په خوله وي د زرين د شاعرى د مطالعې دوران کښې ماته د تولونه زيات خوازهٔ پهٔ دې کښې را ښکاره شو چې څهٔ د زرين په زړهٔ دي هم هغه يې پهٔ خوله وې او دا د يو رښتنى او صادق انسان د معصومتيا انتها وي ددهٔ د خيالاتو او جذباتو د اظهار د تولونه ښکلې رنگ ددهٔ معصومانه انداز دې. دې شعرونو کښې ددهٔ دا معصومانه اسلوب او سادگې څومره خوند کوي.

اوس مې هاغه يوه اسره هم پاتې نهٔ شوه
نوې کور دِ مبارک شه ډيره ښهٔ شوه
تا خو وې چې بې له تابه د بل نهٔ شم
هاغه مينه ليونې دِ لاره څهٔ شوه
ما وې گورته به يې ځان سره زهٔ اُرومه
آ د راز خبره نن رانه ښکاره شوه

2 Store Officer, Agricultural University Peshawar, NWFP, Pakistan

لکه څنگه چې ما مخکښې وئيلى دي چې زرين اشنا يو شريف النفس او مهذب انسان دې او دغه رنگ ئې په شاعرې کښېهم شته نو د هغې په ثبوت کښې دا يو څو شعرونه وړاندې کوم.

څوک د بل په سپکه ولونهٔ درنيږي
دا لعئ چې ځان له زړهٔ خوشحالوي دې
څهٔ حاجت د پښي شا سپکو لوتو ته
دومره ښکته د معياره ولې ځي دې
دا چې سپکه وائې د بل درنه د ځان
پهٔ نظر کښې ځان د ښوو غورزوي دې

خو د مينې او محبت دا ساده چې کله د حيات او کائنات په کارزار نظر اچوي نو د زمانې هوښيارانو ته بيا د اسې سبق ښائي.

ژوند لکه ساز د څهٔ اصولو تابع
ته که ژوند نغمه کوې اصول منې به
چه په يو تن ئې رسولې نشې سر ته
زمانه چې څهٔ کوي هغه کوې به
راز د عشق زړهٔ کښې ساته خو کله کله
تهٔ دِ يار د ښرو لاندې پوهوې به
درد د عشق خو عاشق له مشغولا وي
تهٔ کهٔ خوند دمينې اخلې درد زغمې به

د زرین د شاعرۍ مرکزي رنګ د مینې د یوې حادثې باقیات ژرل دي دا باقیات چې اصطلاحاً ورته هجران وائي زرین په ډیر ښکلي شاعرانه انداز کښې وراندې کړي دي:

مینې ناکام عشق لیونې کړمه زۀ
دا چې د غم سوې مصرعې کړمه زۀ
اوس ئې چې غم د هجر زیات شي پۀ ما
شمعې کرم مرې تورې تیرې کړمه زۀ

او یا دا چه وائي:

څۀ مې آرزو د ګل راوړې وو ژوند
ایله ئې پانړو کښې راغلې وو ژوند
یوه خاکه وه خاکه پاتې شوله
ما چې ئې ارمان د تکمیل کړې وو ژوند

دا حقیقت دې چې عشق او فن د انسانیت تکمیل کوي خو زرین دَ عشق او فن نه مایوسه دې او په خپل تیر وخت د نادانۍ یو الزام لګوي لکه چه وائي:

دا چې د هر چا روستو پاتې شومه
ما د ورو لوبه ګنړلې وو ژوند
اوس مِ دَ تن په غوښو نه ده هغه
چا له چه ما تحفه ساتلې وو ژوند

دغه رنګ دا چه:

په دې دشت د انتظار کښې
څوک زما په انتظار دې
نۀ د چا په انتظار زۀ
نۀ مې څوک په انتظار دې

په انسانیت یقین د هر شاعر او فنکار د خیالاتو یوه لازمي حصه ده زرین هم په خپل دې کتاب کښې په انسانیت د خپلو خیالاتو اظهار کړې دې:

زما ورور دې هغه یهود دې کۀ کافر دې
تل په غم ئې زۀ شریک زما ځیګر دې
چې پیدا د یو آدمه شو بیا څنګه؟
خان کاکا په څۀ اوچت د کسب ګر دې
هیڅ څوک نۀ غواړي چې پریوزي د سترګو
هغه ته ئې او کۀ زید بکر عمر دې
زه زرین ئې دَ زړه وائیم که ئې اورې
نه خبرې چه غرې هغه شاعر دې

په مجموعي حیثیت سره د زرین شاعرۍ د اخلاص معصومانه خیالاتو او جذباتو یوه خوږه او پسته نغمه ده چې چرته لرې د روح په جزیرو کښې راوچتیږي الفاظ ئې روان پاستۀ او مترنم دي معنې او مطالب ئې عام فهمه او زور فهمه دي.

داکټر صیب او د پښتو نظم

حکیم الله جان[3]

داکټر صیب د فکر د شعر رباب ته د زړهٔ په مضراب تنګ ورکړې دې او د زړهٔ د تودو جذبو ارتعاش د هغهٔ د شعوری احساس پرهر ختنولې دې. داکټر صیب په نظمونو کښې ښائسته ښائسته خیالونه چیرلی دی په نظم " ناز او پښتو" کښې مره ورې مینې ته ناز وائ او په خپله ورسره په پښتو کولو پشیمانی راوری. وائ

د ناز ولې ناز مِ نهٔ ورو مره وره شوله
نو خلقه ولې مِ په عشق کښې پښتو کوله

او چه کله خپل ژوبل ژوبل احساس ورله رندئ ته مخه ورکړې ده نو جارئې کوکه وهلې ده

را ساقی منم زهٔ خبر نهٔ وومه
راکه اوس قربان چه د جامونو شوې
څنګه څه حاصل دِ د ژوند شته که نه
اې د مینې اوره د کلونو شوې

داکټر صیب هم لکه د نورو ترقی پسندو د خپله ژبې ژوند

3 Lecturer, Pashto Department, University of Peshawar.

او مینې پرمخ تګ غواړی. د "نمر سترګه" نظم کښې دا سې په رمز کښې وائ.

رابه شی سحر د خوشحالو ونیم
لرې د نمر سترګه په ختو وینم
بیا مِ نن مالیار مسکې لیدو په خوب
باغ د ګلو بیا په غوړیدو وینم

داکټر صیب یو حساس غرې دې او شاعر وی هم حساس د خپل چاپیر چل نه ښهٔ اګاه دې "سلیم شاه ته خط" کښې دا څرګندونه داسې کوی.

ته لوپته یادوې دلته کښې خو
ښځې بربنډې په کوڅو کښې ګرځی
دلته د دې خبرې باک نشته دې
کهٔ څوک لغړ څوک په جامو کښې ګرځی

او یا بیا دا چه:

ځوانی به تیره وی خو جوش مِ شته لا
زور به یم زه لا ولوله خو نه ده
راته بیا تیر یادونه مه یادوی
ژوند خو احساس څه افسانه خو نه ده

داکټر صیب شعری آمد او آورد ته میلمانهٔ وائ ځکه چه دا

يو قدرتی مَلَکه ده هم په نظم "میلمانهٔ" کښې داسې اشاره کوی

پټ په زړهٔ کښې خوشحالیږمه هر بیت ته
میلمانهٔ لکه د لرې وی راغلی
ورکوی چه درد د مینې په جواب کښې
ما لیدلی بې مروته بلا ښکلی

د "خاورو ښلې" نظم کښې د انسانی تخلیق د اضدادو ذکر داسې کوی

ما بس د اضدادو مجموعه گنړئ
دومره په خپل ځان زهٔ پوهیدلې یم
زه لکه د وخت نه یم چه یو ځلې
څومره فنا همره پائیدلې یم

"عنایت الله ضیاء ته خط" نظم کښې چه د وطن یاد ئې په زړهٔ راوریدلې دې وائ.

چه په یاد سره یئ زما د پاره ښکل کړې
د متئ آخرې خاورې مې یادیږی
دلته حسن و ښکلا شته خو ځان ځانی ده
ځکه سترگې مِ په هیچا نه خوږیږی

په "موجودیت" نظم کښې انسان ته په خپله د خپلې لار

اوښکلو، دْ تگ و دو، په خپل اعتماد او محنت د منزل حاصلولو سبق ورکوی .

خوند د ژوند ئې درنه واغست څه وهمونه دا سودا دِ
واک د ژوند دِ خپله واخله لار د مهٔ پریږده رندو ته
تهٔ پخپله یو جهان ئې، معورئ د زمکې آسمان
وار خطا نشې د وخت، ازمیښتونو کشالو ته

په یو ځائې کښې د خپل اشنا سره دا سې مخاطب دې

زما او ستا تر منیځ لوظونه چه وعدې وې
څهٔ عنوان مِ د غزل څه ئې مصرعه شوه
ما وې گورته به ئې ځان سره زه ورومه
آ د راز خبره نن رانه ښکاره شوه

په نظم "په انسانیت" کښې د ذات پات او مذهب په بنیاد د فرق غندنه په دیر ښکلی طریقه کوي.

زما ورور دې کهٔ یهود دې کهٔ کافر دې
تل په غم ئې زهٔ شریک زما ځیگر دې
تهٔ ئې څهٔ گورې او په کښې
انسان څهٔ خو بس یو قسمه ځناور دې

د ذات پات او مذهب رسم ورواج د سرخط لاندې د فرسوده نظام په بدلولو زور ورکوی. او وائ

اودرولی ما او تا ځمونږ نیکنو
پیدا ګیر دغه د وخت د ازمینتونو
اوس بیرئ راته په پښو کښې د ازل
مونږ قیدیان د خپل تاریخ روایتونو

نظم "خاکه" کښې وائ.

دا چه د هر چا روستو پاتې شومه
ما د ورو لوبه ګنړلې وو ژوند
اوس م د تن په غوښو نه ده هغه
چا له چه ما تحفه ساتلې وو ژوند

احساسات او جذبات د وخت سره بدلیږی څومره چه د انسان عمر زیاتیږی دغم دوران په غم جانان حاوی کیږی دغه کیفیت په "نظم" کښې په مختصر خو په ښکلی انداز بیان شوې دې

چه به د ښکلو په یو
نظر اوبهٔ شومه زهٔ
چه به ئې غلام د مدام
په تش کاتهٔ شومه زهٔ
هغه لشې د سرور
وخت سوزولی زما
لکه څما چه نه وی
لرې اوس تلی له ما

یا بیا دا چه:

د دنیا غمونو راوستم په هوش کښې
پیدا شوې د ادې ګنې خود سر ووم
الوتمه د مستئ په هوا پورته
د ازغو په زمکه لاندې نا خبر ووم

د نصیحت او لوئ بنده د سرخطونو لاندې د یو مبلغ په شکل کښې راځی

لږ د درد سره عادت شه
بس دا ویر انګولا پریزده
ژوند په ویر اوسلګو نهٔ شی
قدم واخله امسا پریزده

کهٔ زهٔ د ډاکټر صیب د بیلو بیلو نظمونو او د هغی د مضامینو ذکر راواخلم نو خبره به ډیره اوږده شی. ولې په مجموعی ډول چه ما کوم تاثر د هغهٔ د شاعرئ نه اخستې دې نو زما په خیال ډاکټرصیب د جدید نظم یو دا سې شاعر دې چه د خپل داخلی احساس په څرګندولو ښهٔ قدرت لری په کومو موضوعاتو چه هغه نظمونه لیکی او په کوم اندازئې لیکی په عام ژوند کښې دا سې احساس ښکاره کولو د پاره د قدم ایښودو هیڅ لاره نشته.

یاد گیرنه

راشي چه په قبر م نو یاد لره

ماته ژړا اونه کړې
ماته دعا اونه کړې

ما لکه چیتر کښې د باران یوه شیبه ګنره
ما نمر د غرمې د نیمې شپې توره تیاره ګنره
زه د نورو مرو غونډې هډوکې خاورې نه یمه
سیل کښې د مرغو ما د مستۍ مست په غوټه ګنره

زه په نیمه شپه لرې آواز خوږ د شپیلۍ یمه
زه د اور لوګې د غره په سر کښې د مانرۍ یمه
ما په بنر کښې زوز ته د څرخکو مابنامو ګنره
زه په ننداره دِ ناست همیش ستا په بلیۍ یمه

ما په نرى باد د خزان پانره په لویدو ګنره
ما د اوبو شور د غرونو تل کښې د لختو ګنره
تاو د بربوکۍ زه پټ آواز د خاموشۍ یمه
ما ځان ته نزدې د خپل زرګی د درزیدو ګنره

زه په انګوستا دِ یخ سورې د بنرو یمه
زره کښې دِ مستی مسته خندا په شونډو سرو یمه
ما په مرو مه شماره زه مر نه یم
ستا د وجود ساه زه دِ خوله د انګو یمه

ما روح د ژوندون د صباون یوه نغمه ګنره
ما د هر ارمان دِ د زرګی یوه اسره ګنره
زه د قدم چاپ ستا د سفر هرې ګرهۍ یمه
ما د خپلو سترګو د نظر یو اشاره ګنره

Uptown, Minneapolis, MN
USA
January 4, 1993

ياد گيرنه

کومې کومې زما نخښې ورانوې به
ما که نه زما غزلې يادوې به

ژوند لکه ساز د څه اصولو تابع
ته که ژوند نغمه کوې اصول منې به
چه په يو تن يئ رسولې نښې سر ته
زمانه چه څه کوی هغه کوې به
دا عمل سزا جزا سره پيوند دی
ته که ښه څه بد کوې جواب مومې به
راز د عشق زړه کښې ساته خو کله کله
ته دِ يار د ښرو لاندې پوهوې به

درد دَ عشق خو عاشق له مشغولا وی
ته کهٔ خوند د مينې اخلې درد زغمې به

Comstock Hall, University of Minnesota, MN
USA
July 7, 1992

ياد گيرنه

فام د سترگو د مردانو مه غورزيزه
نر افغان شه وينه ورکره مه تی تيزه

چه د کاغو سره ځې مرداري خورې به
ځه په سيل کښې د باتورو الوزيزه
لکه باز هسې تکره شه ايلئ راؤره
د کاکا په اوزه ښاخ ته مه چوه تيزه
دغه وار دِ دې چه تير به شی ترتله
لکه بُد د بل جنم مه اسره کيزه
ته چه وينه ورکوې نو غم د څه بيا
ځه په خله کښې د مرگی ورځه اوسيزه
هر چه غاره ورکوی هغه يار نه وی
تش د مينې په لوظونو مه غوليزه
چه ظاهر يئ په خله يوه باطن بله
د نستونری د مارانو نه يريزه

چه دِ پتې سترگې لاس ورکوو په لاس کښې
ځه زرينه د خپل لاسه ځه شرميزه

Saint Pual, MN
USA
October 23, 1992

یادگیرنه

چه په مه که د ناصح، نه په زور د نیکهٔ پلار
اوس د زوره ئې خبر شوم خودسرئ چه ماکوله

یا د قامه سره تلم به یا به خوښه د دې زړهٔ م
اوس بې یاره مددګار، دلبری چه ما کوله
تل د زړهٔ د لاسه خوار، کاش عبرت چرې راتلې هم
چه م خرې اوبهٔ یوسی ناپوهی چه ما کوله
زهٔ ښکاری ګځانته ګاوره، لارم ښکار شومه د خرارو
نامراده در په در تورزنی چه ما کوله
زهٔ مرید د اصلیت، منحرف ددې پیرانو
ماته کار د عبادت وو ګستاخی چه ما کوله
زهٔ خو ورک په محبت، تل اشنا د اشنایانو
دا به لیک وه په تقدیر م، دشمنی چه ما کوله

ما وئیل دا شوه یادګیرنه د زرین غونډي خودسرله
دا د غم په تورو شپو کښې شاعری چه ما کوله

136 COB, University of Minnesota, MN,
USA
February 16, 1992

غزل

ژوند د مینې ته زندان وئیلې نه شم
تاؤ د مینې ته نیران وئیلې نه شم

چه په حال د زړه م پوهه نه شو د سترګو
دې جانان ته زه جانان وئیلې نه شم
چه په شپه د هجر راغې داسې تیر شو
دې طوفان ته زهٔ طوفان وئیلې نه شم
چه لمبه نه شو ګوګل کښې م تر اوسه
دې ارمان ته زه ارمان وئیلې نه شم

چه په غاره م ریښې لا د ګریوان دی
دې رومان ته زه رومان وئیلې نه شم

Seatle, Washington
USA
December 25, 1989

نوې تصور

خیال ته م نوې تصور راځی چه
پس د مودو لکه دلبر راځی چه

زره م هوا اوخوری خندا خوروی
دا دَ گوگل وائیم بهر راځی چه
خیال د اشنا رانه غم یوسی د ژوند
د مینې خوب تیر ماځیگر راځی چه
زه یئ په خوند نشه نشه یم همیش
درد د بیلتون دا د ځیگر راځی چه
د چا خندا د چا شرنگار د بنگرو
ښکلې اشنا پټ په هنر راځی چه

دا په خوازهٔ خوب دا چغار د لرې
دا د مارغانو د سحر راځی چه

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
August 3, 1992

لوظونه

اوس م هاغه یوه اسره هم پاتې نهٔ شوه
نوې کور دِ مبارک شه دیره ښه شوه

تا څو وې چه بې له تا به د بل نشم
هاغه مینه لیونیئ دِ لاره څه شوه
ما وې گورته به ئې ځان سره زهٔ اورمه
آ دَ راز خبره نن رانه ښکاره شوه
چه په سُر سالو کښې یار ته بهر راغلې
د حسرت په اور ستی ستی م خله شوه
زما او ستا تر مینځ لوظونه چه وعدې وې
څهٔ عنوان م د غزل څهٔ ئې مصرعه شوه

چه دِ ذکر نن په ډک محفل کښې راغې
تاؤ د مینې په گوگل کښې م لمبه شوه

Chowk Yadgar, Peshawar
PAKISTAN
November 4, 1988

غزل

دا چه دَ لورى ئې پرسان راشى
دا سې په زړه كښې م طوفان راشى

ما چه ئې كله تصور كړې دې
راله سلام ئې هغه آن راشى
اوس ئې نامه هم اخستلې نۀ شم
ملګرو ترس م په ځان راشى

چرته چه حسن او ښكلا اووينم
په خپل اشنا پسې ارمان راشى
چه دَ وصال شپې ئې رايادې كړمه
په تصور كښې م خندان راشى

دَ دغې خوب نو تعبير څۀ دې زما
لاس كښې توكرې م د ګريوان راشى
تۀ دِ دَ چم ملګرى پوهه كړه اشنا
قاصد م راشى خو پريشان راشى

چه زۀ تابيا د ګل غوټو اوكمه
نصيب ته ګوره چه خزان راشى
وې ئې زرينه زۀ بې پته نۀ يم
دا دِ دَ چا په ما ګمان راشى

Agricultural University, Peshawar
PAKISTAN
August 1, 1988

خاکه

څه م آرزو د ګل راوړي وو ژوند
ايله ئې پانړو کښې راغلې وو ژوند

يوه خاکه وه خاکه پاتې شوله
ما چه ئې ارمان د تکميل کړې وو ژوند
دا چه د هر چا روستو پاتې شومه
ما د ورو لوبه ګنړلې وو ژوند
اوس م د تن په غوښو نۀ ده هغه
چاله چه ما تحفه ساتلې وو ژوند
په خپلو کړو ئې زۀ پښيمانه کړمه
ما چا بې پتو ته سپارلې وو ژوند
اوس ئې تابيا د نسخوګی کومه
درد م د عشق په زړۀ خوړلې وو ژوند

څۀ زۀ غمخور څۀ د ازل حادثه
دک ئې د درد زما ليکلې وو ژوند

Comstock Hall, Univ: of Minnesota, MN
USA
June 22, 1992

ضياء ته خط

هيڅ په بند ئې نۀ پوهيږم
دا راپيښه څۀ قصه شوه
د بارانه پټيد مه
د ناوې لاندې م شپه شوه

ما وې دا لکه جنت به
خبرنۀ ومه چه دلته
را شيئ اوګورئي ملګرو
تکه زيړه م ګونه شوه

اوس په کړو خپلو پښيمانه
بس پښتو يم رانيولې
نور عيشونو ته سلام م
د هر څۀ نه م توبه شوه

سمه لارشوه راته شاره
بې رهبره در په در شوم
رنړا ورځ لکه د روند
راته تکه توره شپه شوه

Saint Paul MN
USA
January 20, 1989

عنایت الله ضیاء ته خط

زره م نه دي زما لا ګوره ځوانیزی
چر ته حسن چه وی ځی هلته اوسیږی

دلته حسن و ښکلا شته خو ځان ځانی ده
ځکه سترګي م په هیچا نه خوږیږی
چه په یاد سره یئ زما د پاره ښکل کړي
د متئ آ خري خاوري م یادیږی
هغه ناسته په کشتی کښي د سیند غاړه
محفلونه م آغه سترګو کښي غریږی

دي زما د قام ځلمیو ته نعري کړه
چه د وخت دِ ورستو نور نه پاتي کیږی

Bailey Hall, University of Minnesota, MN
USA
February 20, 1989

غزل

مینې ناکام عشق لیونې کړمه زه
دا چه د غم سوې مصرعې کړمه زه

اوس یئ چه غم د هجر زیات شی په ما
شمې کرم مرې تورې تیرې کړمه زه
د اندیښنو دِ سیوا څه راوری
وخته ظلمونو دِ ذرې کړمه زه
په لا شعور کښې م صدمه د ازل
د لیونو چغې سورې کړمه زه

عِشَق یئ سوچ فکر تاله کړو زما
چه د ماشوم هسې ګیلې کړمه زه

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
April 1, 1993

غزل

لکه زرک به په چرچقو په سحر ووم
بې پروا د ژوند د سختو او خطر ووم

الوتمه د مستۍ په هوا پورته
د ازغو په زمکه لاندې ناخبر ووم
د دنیا غمونو راوستم په هوش کښې
پیدا شوې د ادې گنۍ خود سر ووم
ارمانونه م تول لوټ شو په یو وارې
چه ملگرې د غلچکو د سفر ووم
لکه خس د لویۍ لارې هسې سپک شوم
چرته زه هم د چا گران د چا نظر ووم

حال د زره م برسیر نه شولو د اوښکو
زه زرین ځکه په چغو لاس په سر ووم

Green Hall, University of Minnesota, MN
USA
October 26, 1994

ایرې

زه د سیله پاتې آ مارغهٔ یمه
مات چه یۍ وزر یۍ غوځ په زره یمه

نهٔ راځی لمحه یوه د وصل م
زهٔ عمری قیدی د بیلتانهٔ یمه
زهٔ شوگیر د هجر چه بې کوره کرم
ویخ اوس نیم اودهٔ په نمر خاتهٔ یمه
دې کښې گناه نشته هیڅ هیچا وته
دا د ځان عذاب په خپله زهٔ یمه

عِشَق م کوته سِکه د عمر کره
زهٔ زرین ایرې د چا د ځهٔ یمه

Saint Paul, MN
USA
April 24, 1993

غزل

واره خوبونه مِ رښتیا اوختو
ستوری د بخت مِ په ځلا اوختو

ځو که د عقل نه بهر وو زما
د نجومی وئیل رښتیا اوختو
گوره قسمت ته چه په برخه زما
جوره لاسونه گلې ستا اوختو
ما خوشحالی چرته لیدلې نه وه
ځکه وخکی م په خندا اوختو
دا لاروی زما د لار ملگری
خاص د کوڅې م د اشنا اوختو
ما په ژوندون د غم گمان کولو
خونه شکونه م خطا اوختو
نن چه زاهد ته م په خله راغللو
واره خیالونه م گناه اوختو

دا چه په ناز دِ راکتلی وو گلې
لارو دردونه مِ د ملا اوختو

Excelsior Hotel, London
UK
December 27, 1988

ناز او پښتو

د نازولې ناز م نهٔ اُورو مروره شوله
نو خلقه ولې م په عشق کښې پښتو کوله

وې ئې مدام زهٔ ژړیدلې نهٔ شم
تا سره نوره اوسیدلې نهٔ شم
تهٔ د دنیا نه دیر بدل ئې
دغه خطره نوره زغملې نهٔ شم
د غر یو ژرا ئې په سرو سترگو خمارو کوله
نو خلقه ولې م په عشق کښې پښتو کوله

چا کره ځم چه سره لمبه ئې راته
ته چه نیم وریت او نیم کچه ئې راته
دغه ژوندون م پکار نهٔ دې
چا سره ښهٔ ځهٔ بد کولې نهٔ شم
بده وینا ئې د غصې نه په نعرو کوله
نو خلقه ولې م په عشق کښې پښتو کوله

وې ئې په غم کښې را سره نهٔ شوې تهٔ
چرته په ښو زما دآده نهٔ شوې تهٔ
دا سې د شین کانری دِ زره دې
تا سره ځان نور خوارولې نهٔ شم
په خپلو کروئې پیښمانی د تیرو شپو کوله
نو خلقه ولې م په عشق کښې پښتو کوله

تا نه چه ځان له شم خوشحاله به شم
ایله د سیالو سره سیاله به شم
دغه ژوند بیرته نۀ راځی بیا
دا سې ئې په سیند لاهو کولې نۀ شم
چه ئې تا بیا د نوی ژوند د خوشحالو کوله
نو خلقه ولې م په عشق کښې پښتو کوله

ما وې د درد دِ اموخته کرمه زۀ
غوږ دِ په زړۀ اره اره کرمه زۀ
ښۀ ده چه خلاص شمه له تانه
نورې چړې په زړۀ خورلې نۀ شم
وومه ساده چه م له تا طمعه د ښو کوله
نو خلقه ځکه م په عشق کښې پښتو کوله

ماته یوه خلقوته بله کوې
دکې خبرې د چل وله کوې
نۀ دِ په دین نۀ په ایمان رسم
تا سره ئې سرته رسولې نۀ شم
ستا نه زرین خو توقع د پښتنو کوله
نو خلقه ځکه م په عشق کښې پښتو کوله

Saint Paul, MN
USA
March 22, 1993

سزا

چه په طمه د راتلو به ئي، زما وینه دنګیدله
چه سحر به نۀ راتللو، چه به شپه نه تیریدله
چه په تکه سره غرمه به، تصور ته م راتلله
دا به مانه ،مروره، دا به مانه تولیدله

اوس خندا ئې راته فریب، فریادونه ئې مکر شوی
سوګندونه ئې راته جال یو، تول یادونه ئې زهر شوی
چه به تل وته ځلور وې، ترې م سترګې صبر شوی
آ خوږې سریکې د هجر،م چرې د ځیګر شوی

ده م مرګ وته لیواله، دا چه زهر راکوی لا
په زخمونو راته مالګې، درد د زره م زیاتوی لا
دا په خله چه وائې یو ځۀ، په ربنتیا ځۀ نور کوی لا
دې چلونو ئې سوې سوې، خلقه نور م سوزوی لا

هیڅ په چل ئي نهٔ پوهیزم، خپلو وینو کښې تلیزم
چه م نهٔ لیدې په عمر، په تش خیال ئي لمبه کیزم
اوس په ښو خپلو پښیمانه، د احساس په اور سوزیزم
راته ښهٔ واره خپل بد شو، چا ته ورشم اوژړیزم

هر ساعت م نا قراره، غوغ په زره وپه څیگریم
اوس ژوندون راته یو بوج، غمزده شام و سحر یم
تول خوبونه م تالا شو، نهٔ په غم نهٔ په اختر یم
دا سزا د کوم گناه م، زهٔ زرین چه در په در یم

Saint Paul, MN
USA
January 31, 1992

بورا —

زهٔ د حسن شیدائي یو
یو په مینه پائیدمه
شپه او ورځ د خوشبو یانو
د بورا به تاویدمه

ژوند خندا سپرلي مدام
چه په ځان به نهٔ پوهیدمه
غم د درد هجر م نه وو
مست مارغهٔ به چغیدمه

تیر ساعت راته یو خوب
د صبا د غم بې غمه
د سرونو سره ساز یو
په خپل نن کښې اوسیدمه

خو اوس ځکم د زرگی وینې
چه لوظونو کښې راتلمه
زهٔ د ژونده ناخبره
په رنگونو اوغولیدمه

ښه خبر ووم چه دلدل دي
بیا هم تلمه دوبیدمه
دا د عقله سره زهٔ چه
دا په ول کښې ګډیدمه

په خپل ځان د ځان دشمن
د کاروان چه بیلیدمه
دا د زړهٔ په وینو رنګ چه
دا چه جال کښې کیوتمه

1186 Gibbs, Saint Paul, MN,
USA
April 30, 1992

نظم

هغه خیالونه زما
لرې اوس تلی زما
لکه زما چه نهٔ وی
اوس پردی شوی زما

هغه په نه څه هسې
چه به شوګیر کړلو ما
چه ماتمونه مدام
ازلی ویرکړلو ما
هغه قصې د ژړا
د زړه وتلی زما
لکه زما چه نهٔ وی
لرې اوس تلی زما

هغه په نیمه شپه چه
به رابیدار شومه زهٔ
لکه بې کوره بلبل
سر په چغار شومه زهٔ
هغه تاؤونه د عشق
اوس سارهٔ شوی زما
لکه زما چه نهٔ وی
اوس پردی شوی زما

چه به د ښکلو په یو
نظر اوبهٔ شومه زهٔ
چه به ئې غلام د مدام
په تش کاتهٔ شومه زهٔ
هغه لشې د سرور
وخت سوزولی زما
لکه زما چه نه وی
لرې اوس تلی زما

Minneapolis, MN
USA
December 23, 1994

غزل

د دې خپلو خواهشاتو په عذاب یم
چه مِ خوب و قرار نشی په گرداب یم

ما وې دا به زما عمر ځلنده کړی
غولیدلې د گلونو په کتاب یم
اوس خبر ئې نهٔ راځی او نهٔ په خپله
په ناعلاجه مرض پروت یمه خراب یم
د دنیا غمونه ډیر ورته زهٔ یو یم
ولې بیا مِ قدر نشته که نایاب یم
اوس که اُوری که لا په غاره غورزوی مِ
زهٔ د زور کله د هسې رنگ سیلاب یم

زهٔ خو ویم ورته خو کله زما اوری
د دې زرهٔ د لاسه وریت په اور کباب یم

International Hall,
University of Peshawar,
PAKISTAN
April 16, 1982

د خاورو شلي

چرته چه دنیا زهٔ غورزولي یم
هلته یو په دوه راپورته شوي یم

ما بس د اضدادو مجموعه گنړئي
دومره په خپل ځان زهٔ پوهیدلي یم
زهٔ لکه د وخت نهٔ یم چه یو ځلي
څومره چه فنا هومره پائیدلي یم
ښکلي چه م خون د وفا او نهٔ کړي
زهٔ دِ انتظار وراندي وژلي یم
راشه چه خپل ځان درنه لوگي کړمه
بي له تانه زهٔ د خاورو شلي یم

زهٔ لکه زرین په ظاهر هسي چه
پټ د زړه په سر احساس دا غلي یم

Bailey Hall, University of
Minnesota, MN
USA
February 8, 1990

غزل

څه به نو منزل ته رسیدمه زهٔ
تلمه چه په شارو گتو تلمه زهٔ

ما په ماشومتیا دا خوب لیدلي وو چه
اُورمه خرو اوبو په مخه اُورمه زهٔ
دا زما د خپلي وزسترگۍ قصور
دا د خپلو سترگو چه لویدمه زهٔ
چري چه په ښه زما رانغله نو
ورکه دغه مینه چه ئي پالمه زهٔ
ولي ئي د سره بیا را یاده کړي
لري ئي د زړهٔ چه غورزومه زهٔ
اوس ئي په تش خیال لمبه لمبه شمه
آغه چه ئي په مینه نازیدمه زهٔ
ما کهٔ لږ عبرت څهٔ اخستي د ژوند
ولي به په کړو م شرمیدمه زهٔ

را دِ شي راځي که نن قضا د ژوند
چا وي چه ئي پروا ذرا کومه زهٔ

Saint Paul, MN
USA
October 20, 1992

کتبه

زه بې ځاره د رسمونو، رواجونو فرسوده ووم
هر ساعت م ناقراره، هر گرهئ زۀ غمزده ووم

گیله مند د خپل تقدیره، موروپلار او دخپلوانو
خوپه شنگ کښې د حسینو به خوشحاله ورځ او شپه ووم
کله سوخت د انتظار ئې، کله طمع ئې د دیدار
چه اخر به چرې یو شو، تل ژوندې په دې اسره ووم
بس هم دغه یو ارمان وو چه ئې غلام ووم دعمرونو
د خپل ځان سره په جنگ، د خپل زړۀ په ویر اخته ووم

اوس اُمید شته نۀ آتنده، انتظارد چا د سترگو
د ا ژَل په خوب اودۀ اوس، تل په ژوند چه شوگیره ووم

Saint Paul, MN
USA
February 5, 1992

نظم

په دې دشت د انتظار کښې
څوک زما په انتظار دې
نه د چا په انتظار زۀ
نه م څوک په انتظار دې

دا دلئ دلئ د عشق
چه م غم په زړۀ امبار دې
سوې لوې تود احساس
م گوگل کښې را ایسار دې

چه په وینو ئې ساتم زۀ
په لیمو ئې گرځوم زۀ
ما ساتلې په خپل کور کښې
خپل قضا لره خامار دې

نۀ مو یو سره لیدلی
نه وعدې مو اخستلی
څۀ د عشق په حادثو کښې
څومره ښکلې انتظار دې

زۀ چه کله پوهیدلې
ما په زړۀ کښې خپل موندلې
د دې درده به څۀ وایم
دا په ما پسې آزار دې

چه تیریزی نۀ لندیزی
په لیمو کښې م بلیزی
له دې ژونده نامُراد
تن و ځان م په انګار دې

Saint Paul, MN
USA
March 28, 1990

ارمان

تصور م د ژوندون چه پې روښان وو
د مودو م په زړګی داسې ارمان وو

نیم پخته څۀ لا کچه څۀ لا سمسور وو
رنګا رنګ زما د ګلو ګلستان وو
څه اشنا څۀ نااشنا څۀ زړۀ راپورې
لکه سورې راسره چه به روان وو
لکه ستورې د سحر دغه رهبر م
د ژوندون په ګماګم کښې چه نشان وو
دا ملګرې د غرمو م ماښامونو سحرونو
دا قرار چه م د زړۀ يَه په هر آن وو
دا اسره م د ژوندون یکی امید م
دا احساس له هره څۀ چه راته ګران وو

بیګاه خوب کښې چا په غاره کښې لاس راکړو
په سحر ئې چه تعبیر څیرې ګریوان وو

Grand Rapids, Michigan
USA
November 11, 1989

میلمنه

تهٔ میلمنه د ماښام، کورته راغلې زما
گوره خفه چه نهٔ شې، د ښکلو ښکلې زما

تا سره راز د ژوندون، د خوشحالو دې زما
تهٔ مسیحا د مرض، شوگیرو تبې زما
ته د خوبونو تعبیر، زما د هاغې سحر
باغ د گلونو سپرلې، د سوې مینې زما
ستا په مسکا کښې رنړا، ژوند دائمي وینمه
بې له تا تور تمونه، لارې گودرې زما

تا سره خنگ کښې سرور، احساس د مینې نشه
تا نه قربان فکرونه، دغه سندرې زما

Bailey Hall, University of Minnesota, MN
USA
April 26, 1992

غزل

بس په درتلو کښې پاتې شوې یمه
د خپلې ژبې گرځیدلې یمه
ستا انتظار رانه اونهٔ شو گلې
د شوگیرې خوبونو اُورې یمه

په ما د وچې پشکال تیر شو
لکه دَ لوخې ریژیدلې یمه
دا ستا غمونه د زغملونهٔ وو
د زړهٔ دَ برمه پریوتلې یمه

مهٔ یادوه هغه تراخهٔ وختونه
چه په جرگه درته راغلې یمه
زهٔ بې له تا دا سې نیمگرې یمه
په نوم ژوندې زهٔ د گور مرې یمه

مستې خو لاره چه ځوانی تیره شوه
اوس خو بس زهٔ د خاورو ځلې یمه
هره نغمه م د فریاده ډکه
د مینې تیغ په زړهٔ خیرلې یمه

ژارمه ډیر ځو اوښکې نۀ راځي م
دا به آزار د چا نیولي یمه
عشق پیشه مینه چه کار لری یو
د آغې پیر په قدم تلي یمه

Agricultural University, Peshawar
PAKISTAN
August 16, 1988

غزل

ستا په زړه کښې غلا وه ځکه غلې وې
ما درته کاتۀ چه پښه نیولې وې

ته زما دَ زړه په تل کښې اوګوره
چرته دَ نظرونو م ساتلې وې
اوس یئ درته وایمه دا ځکه چه
ته که پوهیدې داسې به ولې وې
ولې دِ له ما لاسونه پورته کړو
چا راته د عمرونو لمسولې وې

څنګ دِ ناغرضه ځان په وینه کړو
ته لکه دَ مړو چه خوبولې وې

Vancouver, British Columbia
CANADA
December 29, 1989

زۀ او تۀ

ګلې پام کوه را نۀ شې
په دې لاره کښې ازغی دی
اموخته ته د خوندونو
دلته کوُکې اسویلی دی

تۀ لائقه د محل
ستا ښائست لکه سپرلې دې
بې درکه د صحرا زۀ
زما ژوند خاورېایرې دې

نازولې تۀ د مور
خوئیندو رونړو او د پلار
زۀ راورې د اوبو یم
بې درکه بې دِیار

په دې دشت د انتظار کښې
څوک زما په انتظار
نه د چا په انتظار زه
نه م څوک په انتظار

لاغوتئ ته د ګلاب
لا شباب وته پهـ لار
زه وختونو رنځولې
د ژوندون څنې ویزار

دا دلئ دلئ غمونه
چه په زړۀ زما امبار
سوی سوی احساسونه
م ګوګل کښې را ایسار

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
January 1, 1993

غزل

دا دِ څۀ زره درته وئیلی وو نن
را غلې په خیر د مودې نۀ راتللې

جوړ د مودو م را ډک شوې وو زړۀ
اوښکې زما به چیې نۀ راتللې
د غرسنو مِ نیغه اووې ورته
ماله د نورو نخرې نۀ راتللې
دغه م وخت د فیصلې د ژوندون
ولې خوبیه د شپې نۀ را تللې

را باندې خپله حیا گرانه نۀ وې
زما په زړۀ به چیې نۀ راتللې

Duluth, MN
USA
May 6, 1993

د گیدړ سندره

زۀ بې له تا دلته تیرې وینمه
سترگې م دواره تکې سرې وینمه
یوه لحظه یوازې پرې م نۀ دې
در پسې زړۀ ارې ارې وینمه

وی ورغ او شپه راسره
هره لحظه راسره
دغه د زلفو ولونو خیال دِ
لکه د سوری را پسې وینمه

ښکاری دا غم به وی تل
درد په قسم به وی تل
حوصله خپله پوهوم چرته پشا نه شی
له ژوند اوږدې د هجر شپې وینمه

ژوند به ملال شی زما
حال به څۀ حال شی زما
حال به زما مرې د گور شی
درد د بیلتون څۀ خونړې وینمه

Int'l Hall, University of Peshawar,
PAKISTAN
November 21, 1981

ځواب

ستا گیله منم په ځائې ده
ذرم هیرې ستا نیکیۍ شوې
هغه طنز دِ نن رښتیا شو
تورې سترگې م سپینکۍ شوې

خو ما کۀ نۀ منلې بیا هم
د ژوندون څۀ مجبورئې شوې
څۀ دردونه د گوگل م
څۀ د اوښکو م لړئې شوې

دغه ژوند راته سور اورچه
دواره پښې زما پولۍ شوې
څوک د ساوی زما نۀ وو
ورځې شپې راته زندئې شوې

چه د غر غوند ارادې م
ماتې ماتې شوې سلگۍ شوې
ا مید و نه تلو سې م
ما تمو نه تنهائي شو ې

نو ستا لار ته م کتلی وو
پټ په زړه کښې م ژړلی وو

Bailey Hall, University of
Minnesota, MN
USA
May 27, 1989

نازولې

ستړې د پیرونو ته، گلې غریو نیولې ئې
سترگې دِ گیلې کوی، بیا چا زورولې ئې

زهٔ چه درته اوگورم، ته چه دا سې غلې شې
لاس دِ په سینه یوسې، هسې ساه نیولې شې
پوهه شم پټوې له ما، غم دِ غمزولې ئې
سترگې دِ گیلې کوی، بیا چا زورولې ئې

څه چه دِ قرار کړم، دا ډک د غمونو زړهٔ
ژوند درنه خپل ځارکړم، درکړم د سرونو زړهٔ
گرانه د هر چا په ما، گرانې نازولې ئې
سترگې دِ گیلې کوی، بیا چا زورولې ئې

لر کره وسوسې د زړهٔ، زره د ټول عمری درکوم
ستا په خیشت قسم گلې، زیرې د سپرلی درکوم
ته د کوم جهان دلته، غم د ژوند راورې ئې
سترگې دِ گیلې کوی، بیا چا زورولې ئې

زرونه شی پیوند سره، گوره په اتبار د زرهٔ
گوره د عشق لار دغه، اوکه نن اقرار د زرهٔ
ولې د هر چا دا سې، دا سې زرهٔ راکښلې ئې
سترگې دِ گیلې کوی، بیا چا زورولې ئې

Downtown, Minneapolis, MN
USA
January 3, 1994

غزل

تهٔ چه دِ منکره په لوظونو شوې
پورته م لمبې د پرهرونو شوې

څوک دِ را په زرهٔ شو چه ناسا په دِ
دا اوښکې لرئ په رخسارونو شوې
گوره محبت ته م چه ځوان شولو
سترگې دِ اشنا په قدمونو شوې

دا دِ لیونتوب کهٔ د ځوانئ نخښې
لارې چه په شا بیا په نوکونوشوې
را ساقی منم زهٔ خبر نهٔ ومه
راکه اوس قربان چه دَ جامونو شوې

اُووایه ژوند ښۀ دَ انتظار کۀ نه
دا چه ئې په ښنګ مرِ په خوبونو شوې
ښنګه ښۀ حاصل دِ دَ ژوند شته کۀ نه
اې دَ مینې اُوره دَ کلونو شوې

بیا له مانه دا پوښتنه مۀ کوئې
چرته په آرام ئې دَ یادونو شوې
زۀ د ژوند په دا سې مرحلو کښې یم
ښکته را ګزار دَ سر دَ غرونو شوې

Bailey Hall, University of Minnesota,
MN, USA
January 24, 1990

خوبونه ـ

لا زخمی زخمی اشنا د زړه په سر یم
غم لړلې سودائ خاورې په سر یم

د نیم ګرې شپې خوبونه وو چه تیر شو
اوس ئې چاپې ښکلوم په سمه وغریم
هیڅ په بند د دې نسخوګی نۀ پوهیږم
تل دوا وته لیواله در په در یم
کۀ هرځوئي عقل نۀ اخلی خو زړۀ وائي
یوه ورځ به هغه راشی زۀ خبریم

چه م ژوند شو همه تیر په تلوسو کښې
حق حیرانه په دې کرو د مقدر یم

Agricultural University, Peshawar
PAKISTAN
November 11, 1988

غزل

په کوم قصور دِ سزاوار په دغه حال کرمه
چه دِ بندی د عشق په جال کرمه

یا مِ درد واخله یا مِ یار راوله
عشق ئې بې کوره بې مجال کرمه
وخته حسینو له انصاف ورکره لز
په پسو تورو ئې حلال کرمه
یوه ذره پرې نۀ رسیزمه زۀ
چه دِ کارونو ته خیال کرمه
ته چه ئې ورانې بیا جوروې ئې ولې
ستا نه لز ستا د کرو سوال کرمه
زه ئې د ښوؤ ویستلې د ژوند
مینې ناکاره بې کمال کرمه

مخ رانه واروی بدله کری لار
هغه چه طمع ئې د وصال کرمه

Comstock Hall, University of Minnesota, MN
USA
July 1, 1992

د نمر سترگه

رابه شی سحر د خوشحالو وینم
لرې د نمر سترگه په ختو وینم
سم لکه لاله چه نرې باد ئې اوُری
زرۀ م د حسرته په تالو وینم

بیا ئې نن وعده د راتلو کرې ده
تاؤ د عشق بیا په تودیدو وینم
لا م د سرور بخری شته یو څو
اور د مینې بیا په لگیدو وینم

بیا به هاغه ستوری توله شپه شمیرل
خوب د چا حسینې د راتلو وینم
رسم د یارئ دِ تل اباد اوسی
یکی دغه اسره د ولولو وینم

راشی په ادا خواله روانه شی
بیا رنگین خوبونه په رنړو وینم
نن م بیا مالیار مسکې لیدو په خوب
با غ د گلو بیا په غوړیدو وینم

ځار له هر لحظې د مینې وخته ستا
ستا د لاسه ژوند د رنگینو وینم
بیا دَ چا نظر دِ زړهٔ راکښلې دې
بیا دِ چه زرینه په نغمو وینم

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
November 30, 1992

سبق

کهٔ خندا د ښگرو شرنگ غوارې تهٔ
سپین مروندونه د چا ځنګ غوارې تهٔ

ورځه ادب د میکدې ازده کره
کهٔ ماښامونه رنگ په رنگ غوارې تهٔ
دا د حیا عزت قصې هیرې کره
مست کهٔ خوبونه په پالنگ غوارې تهٔ
د سر پگړئ د ملاتوب لرې که
پیغلې په ناز که په چور لنگ غوارې تهٔ
واخله پیاله د ساقی جوش راوله
خوند د نغمې سُر کهٔ د ترنگ غوارې تهٔ
دلته خمار نشه خرځیزی په تول
په خالی لاس ځنگ موتې بنگ غوارې تهٔ
زړهٔ د زمری نظر د باز غواری دا
لاس کهٔ د پیغلې لاپې جنگ غوارې تهٔ
مینه خوزه ده خو دیر گران ئې گتل
که نه سبق څه د پتنگ غوارې تهٔ

سر پکښې کیږده نو گیلې کوه بیا
په څهٔ زرینه وفا ننگ غوارې تهٔ

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
August 18, 1992

غزل

دغه رښتیا دی که دهوکه راکوی
نن چه اشنا راله وعده راکوی

دا خو زما د فکره خیاله بهر
دا د څه اجر زمانه راکوی
چه به یئ زما په لیدو لار پریښوله
مسته دلبره هغه خله راکوی
چا ته م حال د نوی خوب اووایم
گل د گلاب راله تحفه راکوی
دا م ماښام دې که سحر د ځوانئ
تشه خندا یئ راله مزه راکوی

لا م لشه د ځوانئ وتې نه ده
گوټ د شراب راله جوته راکوی

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
July 23, 1993

تیره ځوانی

خوزه به نۀ وی دا پیکه خو نه ده
دَ اُوری شپه د ژمی شپه خو نه ده

چه به هر ځائ په هر نظر پریوزی
دومره زما مینه کچه خو نه ده
ځوانی به تیره وی خو جوش م شته لا
زور به یم زه لا ولوله خو نه ده
راته بیا تیر یادونه مه یادوئي
ژوند خو احساس څه افسانه خو نه ده
ورکې د زره دِ اندیښنې لرې کره
لا مازیگر گلې تیاره خو نه ده
ایله م څوند د جنون شوې د خلې
لا خو اول څه خاتمه خو نه ده

حسن که هر څومره نایابه شی خو
ستا دا انکار! دا طریقه خو نه ده

Saint Paul, MN
USA
August 21, 1992

غزل

چه په خپل تیر ژوندون نظر اوکرمه
د لیونتوب د نادانئ قصه ده

راله م هر خواهش غصه راولی
خاص م د ژوند د بربادئ قصه ده
ستا نه خفه اوس مرور په څهٔ شم
دغه زَره اوس پخوانئ قصه ده
ما کره وفا تا پرې پښیمانه کرمه
ستا د جفا بې‌وفائ قصه ده

لکه په زرهٔ کښې م چه مات وی ازغې
څهٔ م د عشق د ناکامئ قصه ده

IDE, Shinjuko-KU, Tokyo
JAPAN
November 19, 1997

نظم

چه میلسونه د ښکلا ئې په کوڅو شی
د خوده په وتو شی ځلمي دی کهٔ زاره
لکه چنار هسکه ئې ونه
دا د خارو چه کوی تلنه
دنگه غرئ سینه ئې پلنه
چه ئې اوربل په تندی خور لا دَ نخرو شی
د خوده په وتو شی ځلمی دی کهٔ زاره
دا چه شرمیزی د حیا نه
ځان سره شنه شه د خندا نه
لاس په سینه روشی روانه
چه ئې رخسار د تاؤه سُر لا په غرمو شی
د خوده په وتو شه ځلمی دی که زاره
په اننگو ئې خوله رودونه
زلفی سنبل ئې اوری بادونه
په سر قمیص ئې سره گلونه
چه د گوگله پسې زره م په الوتو شی
د خوده په وتو شی ځلمی دی که زاره

Uptown, Minneapolis, MN
USA
Janurary 16, 1994

اړي دوري

له هر څه اول شيشه گوری چه پاسی
بې ښيوې ورته مخ شوکې شوکې ښکاری

دا نادان د ژوند د رازه ناخبره
حقيقت لکه د خيال رنگينه غواری
د دنيا خوند ئې تر خلې نهٔ شو ساعت يو
خوار د مرگ د يرې شپه او ورځ ژاری
د دنيا د کاره وتې په سوز مست
دې به چرگه د اشنا د کور هم ساری
دې د صبر نمونه به غر د فکر
کهٔ شاگرد ئې هم د شا ولی په کانړی
د کائنات په معنی پوهه دې ماهر ته
په رنړا ورځ تيرې او ستوری ښکاری

تهٔ د فکر دشت چه څومره هم دراز کرې
دغه هر څهٔ دې په تله تلل غواری

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
August 23, 1992

د عون اشعر حسين په نوم

گوره څما نوم چه حبطه نه کرې
خوا د خپل پردی په ما سره نه کري

ما د دَ لورتيا نخښې ليدې په خوب
باغ د حسرتونو م سپيره نه کرې
دا د ادم کوُل تول خوئيندې رونړه ستا
زره دچا ازار په څه لمحه نه کرې

ژوند او غم يئ يو سره ترلی دی
وار چرته خطا يا حوصله نهٔ کرې
واخله ښه خويئ د کارندوو ښو
فام د چا تيارې ته اسره نه کرې

خپل ضمير استاذ د ستر پوهانو پلار
ته به پيروی د بل بنده نه کرې
دا م ستا په نوم نن تا له اُوليکو
ته د خپل بابا چه بيا گيله نه کرې

Comstock Hall, University of Minnesota, MN
USA
June 22, 1992

سلیم شاه ته خط

تهٔ لوپته یادوې دلته کښې خو
ښځې بربنډې په کوڅو کښې گرځی

دلته د دې خبرې باک نشته دې
کهٔ څوک لغر څوک په جامو کښې گرځی
دا گیر چاپیر ښکلا به څهٔ وینمه
چه خپل وطن م په ککو کښې گرځی

چا ته گلزار چاته انگار دا وطن
دا چه بې زار ځنې نخرو کښې گرځی
کهٔ د خیالی اتوار دِ اولیدو نو
تر ځنکدن به دِ مازغو کښې گرځی

له هره گوټ دلته راغلی خلق
دا چه حیران ځني نشو کښې گرځی
دلته خو جاز دې یا موټرې دی او
زمونږ خانان لا په ټانگو کښې گرځی

خطه سلام په سلیم وایه زما
ځه د زرین دِ په مصرعو کښې گرځی

Bailey Hall, University of Minnesota, MN,
USA
February, 1989

نصیحت

لږ د درد سره عادت شه
بس دا ویر انگولا پریږده
ژوند په ویر او سلگو نشی
قدم واخله امسا پریږده

اوس خبر شوې ته د لارو
دُ مشرق هم د مغرب
ته حاجی او مُلا څهٔ کرې
مسئلې دا سودا پریږده

رواجونه دا رسمونه
پیداوار دی د حالاتو
ته خبر په دغه راز ښهٔ
چل ولی دا ریا پریږده

د صبا په لوری تگ
یو د نمر په لیدو نشی
څه همت اوکره بیدار شه
نور خوبونه خندا پریږده

ته د وخت چه مخکښې نۀ شوې
نور په شا مۀ پاتې کیږه
تیر وخت بیرته نۀ راځی بیا
بې غمي دا خطا پریږده

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
April 19, 1992

په موجودیت

د پرون او د صبا غم، گله پریږدوه هغوته
په تش نوم چه ژوندی دی، نا خبره دغه مروته

چرته یو سی سُر د ساز دِ، چرته ورک شې د خپل ځانه
چه د تنه دِ جدا شی، هوش دِ نه راځی نزدو ته
خوند د ژوند ئې درنه واغست، څه وهمونه دا سودا دِ
واک د ژوند دِ خپله واخله، لار دِ مه پریږده روندو ته
تۀ په خپله یو جهان ئې، ماوری دزمکې اسمان
وار خطا نشې د وخت، ازمیښتونو کشالو ته
معنی خیز هره لحظه کره، د ژوندون د زرۀ په وینو
فکر اوکره په چمن کښې، د کلیٔ د زرۀ چاودو ته
خوشحالی د ژوندون نۀ شی، نصیبه د فکرجنو
ارمانی ډک زرونه یوسي، ځان سره تورو تیروته

تۀ زرین او انور څۀ کرې، څه تا بیا د خپل سفر کره
دلته ځان له تش راځی هر، بیرته بیا ځان له تیروته

Uptown, Minneapolis, MN
USA
January 10, 1994

رندئې

ولې داسې ته وختونو عجيبه کړې
خاوندانو ته ئې د فکر چه اره کړې
وايه څهٔ قصې ساتلې تا په زړهٔ دی
هره شپه د بلې شپې چه حبطه کړې

آرمانونه دِ پوره شو کوم تالا شو
کوم ازغې دِ ژره وی يۀ کوم خفه کړې
زمانه وائي قصور دې ستا په خپله
څهٔ اقرار ته څهٔ انکار کومه ګيله کړې

د مُلا فتوې به ستا ګناه ثواب کړي
نن د خپلو حرکتونو که توبه کړې
څهٔ روا څهٔ ناروا دی ستا کتاب کښې
د قاضی په قلم کومه شک شبه کړې

وې ئې اره ده وخت په خپله ماشوره ده
څهٔ زما د زړهٔ پوښتنې معرکه کړې
وخت قاضيان کړو څوک زما شان دمه رنده
تهٔ د کوم قاضی راځې ماته قصه کړې

Knapp 2101, Saint Paul, MN
USA
September 9, 1992

غزل

دا چه عيب د نورو خلقو را کنی دې
په خپل خيال کښې ځان په خلقو درنوی دې

څوک د بل په سپکه ولو نهٔ درنيږی
دا لعئ چه ځان له زړهٔ خوشحالوی دې
څهٔ حاجت د پښی شا سپکو لوتو ته
دومره ښکته د معياره ولې ځی دې
چه دِ يوه ذره ښهٔ اوريدې نهٔ شی
په کوم نوم دِ ځان اشنا بيا يادوی دې

دا چه سپکه وائي د بل درنه د ځان
په نظر کښې ځان دَ ښوؤ غورزوی دې

Bailey Hall, University of Minnesota, MN
USA
July 23, 1993

لوئي بنده

پاک روښانه ئې ضمير چه
ويښ احساس ئې ورپسې وی
دغه ځان ئې په خپل تن کښې
بې پايان ژور گوئې وی

يو د حق وينا کوي دې
عن که سرئې په خطرې وی
له هر چا نه په اخلاص کښې
دې چه مخکښ گرندې وی

چه د غيرو په ښادئي کښې
رونړ خوشحاله ئې تندې وی
د غمونو بې پروا چه
په دردونو کښې مسکې وی

زرين وائي بنيادم دا
لوئې بنده د زمانې وی

Saint Paul, MN
USA
January 10, 1994

رسم ورواج

اُدرولی ما او تا ژمونږ نيکونو
پيدا گير دغه دَ وخت دَ ازميښتونو
اوس بيرئ راته په پښو کښېد ازل
مونږ قيد يان د خپل تاريخ روايتونو

شولې کوندې څومره ميندې په کورونو
څومره خوئيندې سر سر تورې په ويرونو
څو درديزی به انسان انسانيت
نور د لاسه د رواج د دې رسمونو

څومره پيغلې او ځوانان شو د قبرونو
په ارمان د يو نظر د ديدنونو
درد د زرۀ م راشی اوښکې شي ککو کښې
مئينان چه په سر وينم د دارونو

دا غماز د لار دَ عشق د سوۀ زرونو
دا نظام دزمانو زور د وختونو
پاسيئ پورته شيئ ملگرو دا پوره وه
چه آزاد کرو ځان د دغه زنځيرونو

Uptown, Minneapolis, MN
USA
August 10, 1995

په انسانیت

زما ورور دې هغه یهود دې کهٔ کافر دې
تل په غم ئې زهٔ شریک زما ځیګر دې
زهٔ منونکې دَ اصولو، ورور ولئې انسانیت یم
ماته یو شان هغه خان دې کهٔ اِینګر دې

ته ئې څه ګورې په ګرنت او په ګیتا کښې
انسان څهٔ خو بس یو قسمه ځناور دې
د مُلا قصې کهٔ اورې څه جماعت ته
زما او ستا لارې جدا بیل تصور دې

چه پیدا دَ یو آدمه شو بیا څنګه
خان کاکا په څهٔ اوچت د کسب ګر دې
اودرولی ما آوتا زمونز نیکونو
خپل مطلب له مناره کهٔ دا ممبر دې

خوشحالی خندا ژرا ده په خپل لاس کښې
ګنزه دا چه بس هم دا یو کار هنر دې
هنر دا چه ګُله حق د نورو مهٔ خوره
دا خو دغه یو کمې چه ژوند ثقر دې

دغه ژوند دِ زیات نه زیات به وی سل کاله
څهٔ حاصل ئې کهٔ دِ دیر مالؔ و دوتر دې
هیڅ خلاصې دِ دَ مرګی خونړی نشته
عقوبت به شې فنا نو پس کهٔ ذر دې

هیڅ څوک نهٔ غواړی چه پریوزی له سترګو
هغه ته ئې اوکه زید بکر عمر دې
زهٔ زرین ئې د زرهٔ وایم کهٔ ئې اورې
نهٔ خبرې چه غرئ هغه شاعر دې

Baltimore, Maryland
USA
August 19, 1992

متلې

ستغه خو ښکاره چه وی
غته یا وره چه وی

لري د هغې لرې څه
ژبه ئې اوزده چه وی
چرې د ځان مۀ وایه
لویه او درنه چه وی
باندې اوره لاس لاندې مه
جګه دِ شمله چه وی
وایه په زړۀ مۀ پریزده
هله خو موقع چه وی

ښه د نهو یوه ښه
لاس کښې درسره چه وی

Sain Paul, MN
USA
August 3, 1993

غزل

څه شوې هغه لورې ارادې ځما
پورته شه بیداره شه جذبې ځما
یورمه چپو درنه دوبیزمه
چرته ئې همته حوصلې ځما

چرته هم مالیار وومه په خپله زړۀ
برخه بیابان اوس ویرانې ځما
چاوې چه به ګلو ته زیریزمه
ځار دِ د رنګونو افسانې ځما

تیره قافله رانه د وخت شوله
دا ځان له ژرا دا شوګیرې ځما
ژوند ځنې کنار ووم داسې کله زړۀ
څه شوې د خندا ډکې نغمې ځما

بخته ځما راشه ورکه چرته ئې
راشه په پوښتنه که راځې ځما
چاوې چه به زړۀ داسې زوریزمه
پورته د ګوګله دا لمبې ځما

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
May 22, 1993

میلمانهٔ

حاسدان شو راته نن م هغه ښکلی
ما په وینو چه ساتلی وو نازولی

ورګوی چه درد د مینې په جواب ګښې
ما لیدلی بې مَرُوته بلا ښکلی
تل حاصل ئې پښیمانی راته تول یاد
ما د عشق په کارونو خپل ژرلی
وایم څومره بختور دی هغه خلق
چه یاران د صدق اخلاص ئې رسیدلی
د یو خوږ نظر په خوند چه دهوکه نشئ
ګام په ګام کندونه ښکلو وی کنلی
چا ته نار نو چا ته نور شی دغه مینه
څوک خوشحال څوک په ژرا ئې ژرولی

پټ په زړهٔ کښې خوشحالیږمه هر بیت ته
میلمانهٔ لکه د لرې وی راغلی

2101 Knapp, Saint Paul, MN
USA
March 24, 1993

غزل ـ

مینه څه خو ځان په اورستی کول دی
د خپل لاسه ځان په خپله ورَکول دی

ما دردونو ته خپل پریږدئ چه دردیږم
له ما لرې شې پردی اوکه م خپل دی
د آدم بچی وفا چا سره نه که
دغه طمع د بې سود زره غلول دی
دا چه وای "په ما ګران له تانهٔ ځار"
دا لوظونه تش خبرې چل و ول دی
د رنړا ورځې خوبونه څه تعبیر یئ
د کنکرو کور هوا کښې جوړول دی

ته لا ځوان وینه دِ ګرمه نه پوهیږې
د زرین خبرې کرښې د ازل دی

Baltimore, Maryland
USA
August 9, 1992

غزل

چه زخمی شی د نظرونو په گذار کښې
څنگه زړهٔ ئې شی بیا پاتې په اختیار کښې

د خیالی دینا بهر راشه نو هله
شماره وه دِ ځان شمارې که د څهٔ شمار کښې
زهٔ د عشق په معنیٰ دومره څه پوهیزم
خوند د مینې ئې تول اینښې انتظارکښې
تهٔ د ژونده خپل مزه سرور که اخلې
څه ورځه په سیل د گلو په گلزار کښې
ننگ اخلاص اعتبار احساس سوزد ځیگر
دغه واره لټووم زهٔ په هر یار کښې

څه زرینه څه نور نوی تازه راؤړه
څه زړې خبرې ارې په اشعار کښې

Saint Paul, MN
USA
August 19, 1992